AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۳/۰۲/۲۱

# پوهاند احمد شاه "زغم" دي خدای وبخښي

د استاد زغم د وفات خبر يو چا له کندهاره راکړ. سمدستي مي له استاد آصف بهاند سره شريک کړ. دی تر ما دمخه په خبر سوی وو. پر مړينه مو ژوره خواشيني سره شريکه کړه.

استاد احمد شاه زغم مي له هغه وخته دوست او اشنا وو چي له نامه سره ئي "ويښ" کيښ. دغه وخت ما د باختر آژانس په پښتو څانګه کي د بالمقطع اجير په توګه د اولاد نفقه برابروله او احمد شاه ويښ نوی د ادبيوهنځي په کدر کي شامل سوی وو. ده هم تر رسمي وظيفي وروسته د آژانس په پښتو څانګه کي د قراردادي اجير په توګه کار پيل کړ. له هماغه لومړی ورځي څخه چي آژانس ته راغی، زموږ ستوري سره برابر سول او يارانه مو ټينګه سوه. څه موده وروسته سرنوشت زه په ادبيوهنځي کي د محصل په توګه شامل کړم . دلته مو هم هماغه پخوانی انډيوالي دوام وکړ. د پوهنځي تر فارغېدو وروسته د پوهنتون علمي شورا په کدر کي زما د شموليت مسئله تصويب کړه خو مقاماتو په يوه او بله پلمه له دغه حق څخه محروم کړم. کله چي کاناډا ته راغلم، استاد زغم خطي رابطه را سره ساتله او هغه ترخه حقايق به ئي راته کښل چي په علمي کدر کي زما د شامليدو په لار کي خنډ ول. راته ليکل به ئي چي " اور له خپلي لمني اخيستل کېږي". مراد به ئي دا وو چي د پښتو څانګي ځيني غړي ستا د راتګ په لار کي خنډ دي. دا ليکونه ما پخپل يوه ناچاپ اثر" نيم ديدن" کي خوندي کړي دي.

څو کاله پخوا چي کابل ته ورغلم، د ادبيوهنځي پښتو څانګي ته ورغلم. د پوهنځي په دروازه کي سره مخامخ سوو. همېشنی خندا ئي پر خوله وه او د غېږي روغبړ مو وکړ. ويل يې، "درس لرم. ته ډيپارټمنټ ته درځه، زه هم درځم". زه له مرحوم استاد جاج صاحب سره ناست وم چي ملازم له چای سره کېک کولچې راوړې او زه پوه سوم چي د استاد احمدشاه په غوښتنه ئي راوړي ول. وروسته استاد ويښ هم راورسېد. اوږده د زړه خواله مو سره وکړه. کور ته ئي د ورتګ ست دومره ټينګ وکړ چي د خدای په روی مي کور ته ورسره د تلو عذر ورته وکړ.

زه چي کاناډا ته بيرته راغلم، بيا مو هم خطي اړيکي ټينګ ول، خو وروسته ئي په ناروغي خبر سوم. له بده مرغه چي نه ئي پر رنځ حاضر وم، نه پر جنازه. له فرسنګونو ليري مي دوعاوي وروليږلي.

استاد احمدشاه زغم په علمي ډګر کي ښه استاد وو، ښه افاده ئي درلوده، له مسلک سره ژمن وو. په شخصي ژوندانه کي مېړه مخی سړی وو. د کندهاريانو په اصطلاح د "خرابات خانه ئي هم درلوده". شعر ئي هم وايه او ليکلي آثار ئي هم پرېښوول. د شاګردانو شمېر تر حساب تېر دئ استاد پر داسي وخت ولاړ چي د شپېتو برېښو ورځ په ورځ کمی دئ او زموږ هيڅ هم په وس نه دي پوره.

جنتونه دي خدای نصيب کړي. آمين

آټاوا ــ کاناډا

۲۰ فبروري ۲۰۲۳ع



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ